عبدالله نجات


۲۰۱۵/۰۴/۱۱

# په سیاسي فرهنگ کې د نوې کتنې اړتیا

سیاسي فرهنګ دټولنیز فرهنګ دیوې برخې په توګه هغوټولو احساساتو، ارزښتونو ، علاېقو ، کړنو او اخلاقیاتو ته ویل کیږي چې دټولنې دهر وګړي دسیاسي موخواو ټولنیزو کړنو لوری ټاکې او هغوی ته بڼه ورکوي .پدې کې شک نشته چې مونږ افغانان هم دهری ټولنې دخلکو په څیرهم وړتیاوې اوهم کمزورتیاوې دواړه لرو,د ښوپالنه سم اوپه ځای کار بولو خو په قدرتی توګه کمزورتیاوې او منفي خواوې او هغو سره سپیناوی او دهغو په وړاندې کوټلیغبرګون هغه تشه اونیمګړې خوا ده چې ورسره غوځه پریکړه اوغوڅ چلن دعادت اودود له خنډونو سره مخامخ دئ او دې سره ټکر او مخامختیا پرغرونو ورختل او ګړنګونو سره ډغرې وهل دي.

دغه میرانه دهر چا دځغم اوځواک کار هم نده.مونږ یو شمیر وړ صفتونه لرو اوپه پالنه یی هوسیږو. خولدی سره سره پدې لړکې نښایي دمنفي خواو له شتون او اغیزو څخه سترګې پټې کړو ،ځکه چې دغه د سترګو پټاوی ناوړه پایلې لري بیا په تژره په دې دلیل چې زمونږ دټولنې لمن دناوړه عواملو له بیلګو ډکه ده .خبره داده چې دژوند په اوږدو کې دغه منفی خواوې په تیره بیا زمونږ د سیاسي فرهنګ په شکل او جوله کې کرغیړنه ناروغي پاتې شوې اوپرې پوهیدل او ورڅخه ځان ژغورل هم اخلاقي او هم ټولنیزه دنده شمیرل کیږي. ځکه یوازی د ویاړنو شمیرل او پر هغوی بسنه او له ستونزو تیښته ، زمونږ دسیاسي او ټولنیز ژوند د لارو ستونځې ډیروي او لوړې ژورې نشي هوارولئ.

د خپل ځان او هیواد دښه والي ،سمونتیا اوپرمختیا په لټه کې زمونږ یوه لومړنی دنده د خپلو نیمګړتیاو او کمزورتیاو او دهغوی د اصلاح اوسمون د لارو چارو پیژندل او دمجادلې د بریدونو ټاکل او دهغوی پر هوارې لاس پورې کول دي.د افغانستان دعامه خلکو او سیاسي نوموتو په انګیرنو ، خلقیاتو او سیاسي فرهنګ کې ددې منفي توګو اوعادتونو شتون د ټولنیزو او بنسټیزو هڅو او د مدنی ټولنې د قانونمن کیدنی اوربنتیاینی په وړاندې نه پخلا کیدونکي پوښتنې پاتې شوي چې له دې منفي ځانګړنو او انګېرنو ځیني یې دادي:

قسمت ته خپل برخلیک ورسپارل اود دوډشویو ارونوله مخی پر حالاتو اوپریکړو بسنه اوقناعت ،په سیاسي کلتور کې دموخو دماهیت او دکړنو دمنځپانګې پرځای پر وګړو ډډه لګول او په ننګه یې ودریدل او هغه په سپېڅلي ګروهیزه - باوری مرجع بدلول او یوازی اوامرو ته سر ټیټول هغه څه دي چې زمونږ د تاریخ او لا تر اوسه زمونږ دسیاسي بخت( ژوند) تومنه او ماهیت جوړوی .پدې هڅوب کې قدرت له رازونو ډکه پدیده انګیرل کیږي. پدې فرهنګ کې واک او واکمن دتقدیر پیرزوینه ، سپیڅلی مقام انګیرل کیږي . دلته دښمن لوی او ډارونکی ځای لري او پغورني لپاره بې هر راز وسیله مجاز شمېرل کیږي.عام وګړي پدې لټه کې وي څو د«خپلو» غټانو رضایت حاصل کړي چې پدې توګه دغوړه مالۍ اوفرصت طلبی فضا پراخیږي .لیاقت او وړتیا خپل ځای سر ټیټاوي او ټیټال ته پریږدي .له بده مرغه دهیواد دپوهو،لوستوالو کړنلوري هم همدې کچې ته را ښکته اوپیکه ښکاري او وینو چې ډیرو قلموالو اسبابو ته مخه کړې او د زورواکو ستاینکي ،ترشا ولاړ او دحالاتو مریدان ګرځیدلي دي .منفي او ناوړه باور او ټولنه په خپلو اوپردیو ویشنه او دغه کړنه تیوریزه او توجیه کول روڼاندي په میرځمنو متضادو ډلو تقسیم کړي دي. د وخت حالاتو او وروستیو غورځنګیزه لسیزو هم هومره چې ښایي مثبتې او ژغورنده پایلې ندي پیرزوییلی .دقدرت خاوندان خپل آمریت چلوي او مخور بې هم د عام وګړو تر څنګ اطاعت کوي.په یو داسې ذهني شرایطو کې څه چې دقدرت خاوندان په نښه کوي هغه دکاڼي کرښه ده اوسپیڅلی حکم اوپریکړه مانا کیږي . دواره لوري داسې انګیري ګواکې دواره خواوی یوه نازله شوي ازلي دنده لري چي یوخوا باید امر اونهی وکړی او بله خوا یي په منلومکلف وي ! دغه




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دآمريت اوتابعيت فرهنگ دقانون ددرناوی فرهنگ د رامينح ته کيدو په وړاندی خنډ جوړيږي .او دسياسي سازمانونو دجوړيدا او دسالمي سياسي سيالی امکانات بی اغيزي او پيکه کوي.ددغه فرهنگ ولی او ريښي دلومړني ټولنيز جوړښت منلتيا ته رسيږي اودسياسي قدرت اړيکي هغه ساتي او څواکمنوي، چي دا په سياسي بهير کي دزورواکو په ګټه دنا انډوله سيالی او ګډون په مانا تعبيريدای شي .

بله نيمگرتيا چي په منفي انگيرنو کي يي ديښي پل تر سترګو کيږي دتېر مهال او دتېرو کړنو په ټولنيزو نا انډوليو اونا دودوکي ځای او سر چينه لري هغه د چل ول اودسيسو وېره ده چي په سياسي شا ليد کی لوی ځای لري .ناوړه انګيرني زمونږ هيواد دسياسي بهير او دسياسي مخورو ،پرګنو او واکمنوتر مينځ د پيړيو پيړيو ټالي شوي فرهنگي عارضه او دسوچونو تومنه جوړوي .چا سره چي ددسيسو ويره موجوده ده ټولي پيښي دميرڅمنو اود پرديو واکمنو کړيو زيږند ه بولي ،ناوپساتوب، ناډاډمنتوب ،کاږه او ناوړه سوچونه ددغه اندود ځانګړتياوي دي .پدی ډول لرليد کي په نړيوال ډګرکي هيڅ څه وار د واره تصادفی نه پيښيږي يواړخيزه منفی انګيرنه اوپر دسيسو ګروهمن ذهنيت ،يوه مخکي له مخکي داسی سناريو په خپل ذهن او خپل مافی الضمير کي انځور کړي چي وار له مخی يی د ننداريځ او صحني دلوبغاړو لوبيدني او کړني ټاکلي او په نښه کړي دي .پدې سناريوکي بايد دچارو سمبالوونکو او دلوبڅارو اوامروته غاړه کينودل شي او لوبغاري ته دسوچمني پريکړی او خپلواک چلنداوکردار ځای نشته . زمونږ هيواد دسياستوالو اوسياسی الواک ګرو دشننو زيرمي له همدې انګيرنو اوحکمونو ډکی اوخړوبيږي چی څو لاملونه يی دادي :

1 – دخپلو ذاتی کمزوريو اړين بلل او د اجبار او ټاکل شويو ارونو له مخي دذهني يون ،عملي تکل او د انتقادي دريځ اوچلن مخه نيول او بي وسي مقدرګرځول .

2 _ د راولاړو مسلو او پوښتنو دځيرنو او ارزونو ساده ګرځول اودمخکينيوکليشو او منل شويو ارونو له مخی مخکينی او ټاکل شوی برخليک ته غاړه ايښودل، حال دا چي ټولنيزي -سياسي اواقصادي- فرهنګي پوښتني اومسلي هم ډير تصادفی لاملونه اونوره ژور اړخونه هم لري .سوچمنه ارزونه،تجربی لټون اوعلمي سمون غواړي .

3_ له مخکي ټاکل شوئ منفي دريځ او دسيالو لوريو په وړاندې نارغنده،شډل او له رخي ډک چلن او په ذهنی لحاظ دسياسي مجادلي په ډګر کي مقابل لوري او دهغه څواکمنی ته تسليميدل اوخپله ماته اوشاته توب د تقدير پريکړه بلل.

3- د تاوتريخوالی او د زورواکُ دکلتوربرلاسی ، دسمونتيا ،څغم اوجوړجاړي نشتوالی اوبيځواکي، دخشونت او ميرڅمنتوب پر مراندو ولاړ خوی اودشدلو شاته پاتي ټولنو دهڅوب متره شوي خټه ، د پخلاينی اندود سره چي دنوي ژوند تومنه او مدني لاري چاري جوړوي نا پخلاينه لري. ياني دانشي څغملای چي دهغه څه په وړاندې چي تري کرکه وېره او په وړاندی يې منفي دريځ لري له روغي جوړې ،نيکي پيرزوينې او انساني ميني او چارچلن کار واخلي. يو داسي خوی او ادب ته غاړه کيږدي چي غڅ اوناپخلاينی څخه خوندي وي. په يقيني توګه ديو داسي فرهنگ او خوی دودونه وخت غواړی اوګڼ شميره سمونونواو بدلونونو ته اړتيا لري.

ننني مدني ژونددعقل او پوهي پرمراندو ولاړ او په ټولنيزو اړيکوکي دانسان دحقوقو او دندو ښکارندوی دئ.حقپالنه او آزادي، دژوندموخه اودمخته تګ ميچانی جوړوي. دانسانانو په متقابله اړيکو کي دحق اوآزادی تومنه او زړي پراته دي چي دهغه پالنه اوزرغونتيا انسانی لوړتيا اوسلامتيا تامينوي. پدي بهيرکي راټوکيدونکي پوهه دانساني اړيکو انډول اومتقابله ژمني او ترونونه د وګړو ترمينځ د رغوونکو مناسباتو بريدونه ټاکي اوانسانانو ته هوساينه اوسوکالي تضمينوي . پدې پوهنيز بهير کي رشتياپالنه ،رښتت،انډول،تناسب دحقوقو اوآزادی درناوی سياسي اخلاق ګرځي .پدې لاره کي ګډي هڅي اومبارزه هغه سپڅلي دنده ده چي بايد دسياسي او ټولنيزو ښستونو اوبهيرونو مقصدلوری جوړشي. ددغي موخي شونتيا له اقتصادي- سياسي او ټولنيز- فرهنګي ژوري پراختيا سره تړلي ده .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ